# د پښتو نادره لغات او د املا رواج د خیر محمد عارف په شاعرۍ کښې

**Pashto Script and Classic words in the Poetry of Khair Muhammd Arif**
**(in the light of Devaloona vesh de)**

**ډاکټر نصر الله جان وزیر**♣
**ډاکټر عثمان توبه وال**♥

**Abstract:**

*The writters of this Paper investigate the antique words in the light of recently published book (Devaloona vesh di ) of Syed Khair Muhammad Arif.the writers discussed all those classic words wich are supposed to be extincted but in the trible Pashtoon areas.They have been through the roots of these words and strived to suggest its accurate writing / script.Script writing is complicated in Pashto language hence till from Kandahar,Kabul to Peshawer.In this connection,this paper will be supportive for promoting the uniform and standard scriot writing of Pashtolanguage.*

وئیل کیږي چي دا ارواښاد سعید ګوهر نیکه ګان هر کله چې د تیراه له د نګو دنګو غرو راباربېدل،نو ئې نیکۀ یوه شپه د مخه په یوۀ لوړ غونډي وخاتۀ او وې کتل،چې د بخت ستورى ئې وکومه خواته ولاړ دى.د ستورویو په ډک اسمان او د ترورږمۍ په تېرۀ کښې هغۀ ولیدل چې له دې ځایه ډېر لرې د پښتونخوا د جنوب غرب په یو ګوټ د کاکړو د یو خړ کلي په سر یو ځلنده ستورى هغۀ ته په سترګه کونو سره د دوئ د نوي منزل ښودنه کوله.

په لویه پښتونخوا او د کاکړو په پراخه لمن کښې دا هغه مردم خېزه تراډه ده چې تاریخ ئې اوس د لورلائي په نامه سره راپېژني.د تاریخ په اوږدو کښې دې خاورې په خپله لمن کښې ډېر غښتلي نومیالي لرلي او هم ئې روزلي دي.پښتونواله،ننګ و ناموس ،پت او مېړانه ئې یو بل اضافي صفت بلل شوى.

---

♣په پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون کښې پروفیسر دى

♥په پاکستان سټډي سېنټر بلوچستان پوهنتون کښې اسسټنټ پروفیسر دى

پرته له یو شمېر نورو نومیالیو چې په دا سیمه راپورته شوي.له هغو نه یو د اوس مهال په څپو کښې په قوم مئین شاعر،ادیب او وتلی شخصیت ښاغلی سید خېر محمد عارف هم دی.چې له ډېري زماني راهسې ئې د پښتو د شعر او ادب لمنه په پراخولو کښې همېشه فعال کردار ادا کړی او د پښتو ادب بڼ په زرغونولو کښې له بل چا وروسته نۀ دی پاتې شوی.د دۀ د ادبي خدماتو که څۀ هم ډېرې خواوي دي.خو له هغو نه یو دا اوس مهال چې کوم نوی زیار لیدل شوی،هغه د دوئ شعري ټولګه "دیوالونه ویښ دي"ده،چې د پښتو ادبي ملګري لورلائي له خوا په کال ۲۰۱۲ کښې له چاپ راتلې ده.

زیاتره برخه ئې غزلې دي.ولې یو څو نظمونه هم لري. د اشعارو په موضوعاتو کښې ئې د وطن د ناوې سنګار،د پښتنو د دربدرۍ او سترې ستومانه ژوند ازانګې له ورایه برېښي.احساس او شعور او د فکر د لوړتیا خپرونه ئې یو بل مثبت اړخ ګڼل کېدلی شي.متانت او سنجیدګي ئې د اشعارو کره توب او سپېڅلتیا ښکاره کوي.خوله ښۀ مرغه د اشعارو په دې درست بهېر کښې ئې د ګل و بلبل ،می و می خانه ،رندي و مستي،وصل و هجر،رقیب و روئیبار،شونډې او رخسار،قد و قامت،زلف و رخسار،ادائې چشمان او د حسن او عشق ځنې نور اصلاحات راوړلو څخه ئې عار محسوس کړی.ګویا هغوئ نۀ دي غوښتلي چې د خپلې ځوانۍ مست و رنګین خوبونه او یاد دې دور د درد او کرب احساسات هم له چا سره شریک کړي،یعني د دوئ په درسته شاعري کښې دغه خوا ډېره کمه او یا د نیشت برابر راوړل شوې ده.له دې څخه داسې برېښي ګویا چې د هغۀ مزاج لا په ځوانۍ کښې په څېر د سپین ږیرو وو.تقوی وربانديې غالبه وه او معصومیت ئې هم هغه د حسېن له فلسفې څخه په میراث کښې خپل کړی وو.

څۀ رنګه چې د عارف په شاعرۍ کښې ډېر څۀ شتون لري او هر څوک به ئې له خپله نظره ګوري.څوک به ورکښې د خپل ژوند د تسکین سامان لټوي،څوک به ئې د نقد له نظره تلي او څوک به په کښې د خپل قوم د نا ارامه او دربدره ژوند خوږې او له سوزه ډکې نغمې

لټوي.دا هر څۀ به ددۀ په اشعارو کښې ځای لري او هر څوک چې ورته کوم نظر ورکوي حق ئې دی ځکه چې د دۀ دغه افکار اوس د ګړد قوم مشترک میراث دي.نو هر لوستونکی حق لري چې د خپل مزاج په رسد ترې هغه خوند واخلي کوم چې د هغۀ په فهم کښې ځای نیولی.خو که په لنډه توګه ووائیو چې په دا چوڼ کښې چې هغۀ څۀ راوړي یقیناً چې ښۀ به وي او غوره به وي.ځکه چې په دې کښې د ملت درد محسوس شوی.قوم ته ئې د شعور او اګاهي مفکوره وړاندي کړې ده.له دې سببه تر ټولو زوروره او مهمه خوا ئې دا ده چې په هر غزل کښې ئې د ملت سوی دړد او د وطن پرهارونو ټکورولو تابیا کړې ده.د ګل و بلبل ،محبوب و روئیبار،د رقیب له لاسه ویر او ژړا او یا د لال او بدخشان ذکر،که ور کښې نۀ شته نو ئې څۀ ؟په دې هکله د اردو ادب پوه ډاکټر سلیم اختر وېنا سمه ده چې :

"ادب کے عصری تقاضوں سے ہم آہنگی ضروری ہے اور ادیب کے لئے عصری تقاضوں کی ترجمانی کا حق ادا کرنا اساسی اہمیت کا حامل ہے،(چنانچہ اِنہوں) نے گل و بلبل کے غزلیہ شاعری کو بے وقت کی راگنی قرار دے کر ادب سے قومی فلاح و بہبود کا کام لینے کا پرچار کیا"(۱)

**ژباړه**:.د ادب له عصري تقاضو سره هم آهنګي ضروري ده او (هم) د ادیب د پاره د عصري تقاضو ترجماني حق ادا کول د اساسي اهمیت وړ ده.(ځکه)د ګل او بلبل د غزلیه شاعرۍ په مقابل کښې (هغوئ) له ادب څخه د قومي خیر او ښېګړې د کار اخستو پرچار کړی.

د وطن او ملت موضوع اګرچې په دا تولګه کښې په کویه پیمانه اخیستل شوې ده.خو له دې څخه داهم مراد نۀ دی چې ملت او وطن یوائې هم دومره ده.چې محضې ډاګونه او قومونه دې حساب کړل شي.بلکې دا په خپل ذات کښې یوه داسي موضوع ده چې هر څومره او هر کومه خوائې چې سپړې،هغومره ژوره او پلنه ده.خو چونکې په دې مقاله کښې یوائې دغه د سر موضوع په حساب بحث شامل دی ځکه پرته له نورو خواوو بحث یوائې په عنوان پورې متخصص کولې شي.

دغه موضوع دوه برخې لري چې اوله برخه ئې د ښاغلي خېر محمد عارف په شاعري کښې راوړل شوي هغه سوچه،زاړهٔ پورې توريو په معنى او اهميت خبرې کول دي.د موضوع دويمه برخه د ښاغلي عارف صاحب په دغه مجموعه کښې د املا په طرز رواج بحث کول شامل دي.خو ياده دې وي چې د املا دغه دود يواځې تر عارف صاحب پورې مخصوص نهٔ دى بلکې هغه ټولې نورې ليکنې چې په دغه دود ليدل شوې دي.هم د دې بحث برخه ده که څهٔ هم دغه ډول تحريفاتو ته اوس په پښتو کښې د غلط العام درجه ورکړل شوې ده خو څېړنه ،ګوت نيونه او ياکره کتنه د ژبې او ادب بنيادونه رغوي او هم د لوړتيا مدار ئې برابروي.د پښتو ليک دود کښې مسائل ځکه راپيدا شوي.چې زموږ ځنې ليکوالان نهٔ غواړي چې تر ځان وراخوا د بل علميت ته غاړه کښېږدي.او ځنې بيا په شعوري توګه دا زيار کوي چې د پښتو رسم الخط په خاموشه ميدانه کښې د خپل کور لهجه هم ورولړي.ولې په دې کښې د کاتبانو خودسري،د اوس زمانې د کمپيوټري چارو کړکيچ او يا د کمپوزرانو خپل مخيزه استازي هم د هېرولو نهٔ ده.په دا خاطر په دې مقاله کښې ښاغلى عارف صاحب مجموعه يواځې بطور ټيسټ اخستل شوې ده.نهٔ چې له دې څخه يواځې دغه شعري ټولګه په نخښه کول او يا د يو چا په تېروتنو پسې بډې وهل مقصد دى.

**د پښتو سوچه توريو استعمال**: په فنې او ادبي توګه دا اثر څو اړخيزه کېدلى شي چې هره خوا ئې ځانته ارزښت منه او د اهميت وړ ده.خو د مقالې په دريځ چې له دې څخه کوم څهٔ په ګوته کولې شي.له هغې نه يوه د ښاغلي عارف په شاعرۍ کښې د پښتو د سوچه ،نادره،کره او سپېڅليو توريو استعمال او د هغو د بيا راژوندي کولو هڅه ده،چې د ژبې په بډايه کولو کښې يو ستر او د ستاينې وړ ګام بللې شوى.البته په پښتو لغاتو کښې ئې کره والى خوندي او مستند دى که څهٔ هم دغه توري په شمار ډېرى دي.خو هګه يو څو چې څېړنه ئې ايندو ته ګټه ورو ،او مثبته خوا ولري. ،به د بحث په دائره کښې شامل وي.پرته له

دي د ورکړل شويو توريو معنا ،تشريح او ورسره هغه شعرونه چرې دغه توري په کښې استعمال شوي.به هم د نمونې په توګه ورکولې شي.

**نادره لغات**:

د توريو معنیٰ اِستعمال او د شعر نمونه په لاندې ډول دي.

**تېکر**:

عارفه! شې به ئې تر واړو قدرتونو قربان
که ئې څوک وکړي په تېکير دمهِ سال ننداره (۲)

په سر کښې سپړې (شپږې) يا ريچې لټونه ،لج کونه،بغض او کينې له کبله چا ته په بده سترګه کتنه،خو تېک په مونی د نېغ، او چت څرګند ،بلنګ ،ښکاره ،جوت (۳) راغلې ده او د دې شعر په مطابق تر ډېره دغه معناوې ورسره مطابقت خوري.

**ځپ**:

ژبه څوواره له خوږلته څخه شونډې ځپ کړي
شوه د رفعت له ذکره پورته د ښکلا ازانګه (۴)

د پښې د ښکالو اواز،د پښې د قدمونو اواز،دغلې د پاکولو اواز،دغلې ځپونه، دغلې ځپ وهنه،مچونه ،ښکلونه،چپونه (۵)

**کپنا**:

د ژوند مستۍ چي په کپنا لکه د ستورو کړله
د تمنا هغه سجده مي بې اِمامه وکړه (۶)

**هنګ**:

په کنډوالو مي اوس همګ وهي بد مرګه ورځې
ملګرو تاسو په بې لاري کاروان څهٔ جوړه کړه (۷)

ام واحد مذکر،مسخره،پېچوزه،ټوقه،مذاق(۸)

**پټن**:

دا ليږ عمل او ډېر پټن د کم ظرفۍ نخښه ده

روان په پټه خله وي ناري سمندر نۀ وهي (۹)

**پټن**: په معنا د پټهنگ ،گودر ،بندر ،پټن.بله معنى ئې غم ،ماتم،ژړا ،

وير.او پټڼ:په معنىٰ د فرياد ،گيله،شکوه، (۱۰) [په نخښه کښې

"ښ"ورکول او په ځنې نورو توريو کښې بيا نۀ ورکول هم سواليه نشان

پيدا کړي ].په اظهر الغات اردو کښې هم د دې معنا ماتم،کهرام،رونا ،

پيټنا راغلې ده. (۱۱)

**غومبر**:.

نۀ د ځوانانو غومبر پاته، نۀ د پېغلو امې

له دې وطنه چا وهلی دی ناتار د سهار (۱۲)

د مستۍ په وخت د کونترو غررار،د مستۍ نه د کونترو تاؤ راتاؤ کېدنه،او اواز ايستني د گډا په وخت دهلکانو د لاسونو ټپولو (ټکولو،پر کولو) سره د خلو نه د تمبل په شان اواز ويستنه،بغبغو.(۱۳)

**يېلې**:.

ستا ستومانه سترگې پاته شوي کور ته نۀ گوري

ستا د قسمت يېلې پښې پر تا کړي د سفر زېړے (۱۴)

لځې.لځ،هغه چې په پښو ئې څۀ نۀ وي،په اردو کښې ورته ابله،يا ابله پا وائې او په وزيرۍ کښې دغه توري په دغه ډول د دغې معنا د پاره استعماليږي.

**مَيَا**:.

لوټ به شي مَيَا ئې ده پر بټي بيابان پنډه

بل چا ته د هيه کوربانۀ خبره مه کوه (۱۵)

د عارف صاحب له دې شعر څخه د دې معنىٰ رَمَه جوړېږي،خو په درياب کښې ئې معنا د شپون را غلې ده (۱۶)

که مَيَاد شپون د پاره وي نو ماده ئې مَيَه په معنا د شپانې جوړيږي.

**پېندلې ،برښن،تالنده**:

دا په پښتني حيا پېنډلې د غېرت سپوږمۍ
وخته و بام ته تکه سره شوله ايله شوله
تندر به عارفه! شي د کوم پښتون پر کور باندي
دا برېښن له تالينده سره شوله ايله شوله (۱۷)

**اوډره**:

تهٔ به ولاړه منتظره دروازه غوندې وې
زهٔ څهٔ خبر ومه اوډره وه له ما دروازه (۱۹)
اوډره: پناه، پټ يا پټ مخ (۲۰)

**ری**:

زهٔ د کوربه پر نيت شک نهٔ کوم دا ری وهمه
وائي غلا شوې ده او ورونه دي سهي سلامت (۲۱)
اسم،رايه،رائ،فکر،سوچ،چُرت (۲۲)

**درګنه**:.درپه دره،

اې! د خوار عارف د سترګو سرې اوښکې!
ګرځه پر مخ باندي درګنه غوندي (۲۳)

**ځول**:

د ستم ځول ئې د کيږديو تناوونه پرې کړل
دوبي په زمي کي پر واوره مېلمانهٔ واړول (۲۴)
زول،سخته يخني،سخت،يخ ،هغه ،يخني چې له دوامداره اور (باران) او يا سيلۍ سري يو ځای وي،(۲۵)

**ځنګلوري**:

خاوري ځنګلوري د ايرو شوې ايرې باديو وړلې
ځکه پر لوبه لاربې کوره کوربانهٔ واړول (۲۶)
په حاشيه کښې د دې معنا همسايه ورکړل شوې ده،(۲۷)

دا یو مرکب توری دی چې له څنګ او لوري څخه جوړ شوی یعني د څنګ و خوا ته ،و څنګ ته،ورسره په څنګ کښې اوسېدونکی،ګاونډي،په دېوال ورسره شریک اوسېدونکی،ورپوري نژدې اوسېدونکی.

**ځوکلېدلې**:

د ځو کلېدلې ځوانۍ غم له حاله وایستمه
ناهیله وخت له سپېري او سیاله وایستمه (۲۸)

په دغه ډول توري په پښتو لغاتو کښې په نظر نۀ راځي،ولې دې ته نژدې کلمه ځوکی شته چې معنائې :

زوړی،ستغ،سخته لار،زوبړ ناکه لار ده.(۲۹)

**پخڅۀ، تاکي**:

ما چې ئې په هره پخڅۀ غبرګ لاسونه تاکي کړل
نن له هغه کوره څه وتلي نوکان ووتم (۳۰)

پخڅۀ :په معنا د دېوال موره،(۳۱)

تاکي.په معنا د ټیکه لګونکي،خال وهونکي.(۳۲)

**جول، ډوکال**:

هر مزل دے چول وهلے هر احساس سینه کوبي کا
و ډوکال غېږي ته خدایه ! له عمرونو باران غواړم (۳۳)

خالي میدان،تش میدانم،بیابان،ډاګ ،ډاګه،ډېګلچه،جاړه،شړَه مځکه،میَره،صحرا ،دشته،چه ول،مصدر متعدي:ماتول،درز پیدا کول،چاؤد جوړول،چاؤد راوستل،په مینځ چول،دوه پړقه کول،لرګی چول،درړې کول وغېره.(۳۴)

ډوکال:وچ کالي،ناڅاپي مړینه یا مرګ،قحطي،ګراني،قحط(۳۵)

**مرغتانی**:

هیڅ تکلف نۀ کوي ، پر مخ خپل مرغتانے وړي
یار له موسمونو سره سم‌دم بدلېدونکے شو (۳۶)

د کوچیانو یوه لوبه،په دریاب پښتو لغت کښې د مرغټاه توري په معنا ګونګټې راغلی .(۳۷)

**ماندوره**:

ماندوره یو چي د تاریخ په دې اوږده پړاو کي
په متهي اوس د یوې خپلي کربلا جوګه شو(۳۸)
ماندوره:لائقِ تحسین (۳۹)

په دریاب کښي ماندره توری راغلی،چې :جوټ تګ،تناوی،مرانده،ګیله(۴۰) کېدلی شي دغه توری د ایماندوره مخفف وي ځکه چې ایمانداره توری په معنا کښې خو هم دغه قابلِ تحسین ته ورته والی لري،

د پښتو وتلی فولکلورسټ او منلی محقق ښاغلي سیال کاکړ هم په خپل یو شعر کښې دغه توري داسي راوړي :

په دې کار کښې ما خپل ځان دی سترې کړی
ځکه وایم پښتنو ! یمه ماندوره (۴۱)

**اربه**:

دا ځل بل رنګه د رواج اربه واوښتله
د سترو غټه سترو یو وړله هوسا پاتې شو (۴۲)
اربه : پهیه ، ټائر .(۴۳)

په دریاب کښې د دې معنا داسې وه،اسم واحد مونث،پله،پته،جمع اربې،د ټوپکو یو ځائ بار،په ټوپکو سره ګډې ډزې،اربه:پایه(پهیه)درګړ،موڅې،ټپر،د موټر بګۍ یادګاډي پهیه ،ګاډۍ (۴۴)

**ښوره**:

د مسائلو حل په اوښکو چا موندلی نۀ دی
عارفه یاره !له دې ښوره نوحه ګیر وباسه (۴۵)
ښوره: کلي (کلی).(۴۶)
ښوره په معنا د ،سلطنت،باچاهي،لویه قلعه،شاهي قلعه.(۴۷)

دکلي معنا ئې هم کېدلی شي،ولي د دې معنا تر کلي وسيع ده،لکه پښتونخوا کښې د سوات و کبل سيمه تر نژدې دوه علا قائې چې د برښور او کوز ښور يا لر ښر په نامو سره شته او په پښين کښې د کاکړو برښور علا قه ،غالباً دا نومونه د شاهي قلعه ګانو په نسبت کښېښودل شوي دي او دلته به ئې سلطنت معنا ډېره پر ځای وي.

**وند**:

دا مي يقين دے چې سېلاب د شګو کور ورانوي
ما به پر مخ باندي تړلے وند ترڅو پوري وي (۴۸)

وند: سيند کښې وهلی دېوال ،بند ،ختړ،(۲)،برخه،بخره،(۳) خرکه ،زَړه خرقه،زَړه ګودۍ،جمع ئې وندونه.(۴۹)

**وچن**:

وچن مړوند د بل په زور د سمېدلو نهٔ دی
ستا تر ټوپک لاندې اشنا د بل اوږه ښکاري (۵۰)

وچن :مړوند چې وچ شي،شيَل(شل)شي.په درياب کښې د دې معنا داسې ورکړل شوې ده .شنډ ،له اولاده محروم،مونث وچنه،جمع مونث وچنې.(۵۱)

**څڅوبی**:

ما وئيل څڅوبی به ګوهر شي مګر دا وګوره
لکه رنګ تورے شومه پاتې له اظهاره زياته (۵۲)

څڅوبی: څڅېده،څڅک ،هغه چينه چې څاڅکي،څاڅکي اوبهٔ ترې راوځي،څنډلی،د دېوال يا دڅت څڅه.(۵۳)

**ګولېدلی**:

عجيبه باد دی ګولېدلی پر دې سيمه خدايه
چې په سوب ئې رنګ او بوئ له هره ګله ولاړي (۵۴)

فتنه را اوچتېدل ،پرېشانېدل،ويلې کېدل،ځارېدل،غونډی کېدل،پېچيده کېدل،(۵۵)

پرته له دې دغسې نور هم ډېر توري ذکر کېدلی چې،خو له دې ويرې چې بشپړه څېړنه به ئې مقاله له طوالته سره مخ کړي.ځکه پر مخ د موضوع په تله نور بحث د ښاغلي عارف صاحب په دغه تولګه کښې د اِملا په اړه مسائلو ته پرېښودل کيږي.

**د عارف په شاعرۍ کښې د اِملا رواج:**

**د ليک دود مسائل:** د ۱۹۴۲ء نه راپه دې خوا تر اوسه چې د پښتو رسمُ الخط په هکله څومره جرګې يا فېصلې شوې دي،د هغو ګردو نتائج که سره راټول کړل شي نو هغه داچې :په هر حال ئې پښتول ليک دود پر مخ بېولی او هر چېرې ئې ليکوالان و دې ته هڅولي چې د علا قائې يا قبيلوي ليک دود يو صورت ئې په څو ډوله حروفو سره ادا کولې شي،هغه د نړۍ کمزورې او ياد ګرائمر له خوا بې ترتيبه ژبې بللې شي.پرته له نورو ژبو په پښتو کښې دا مسئله يو څۀ سره زياته ده،لکه د مثال په توګه :که د پښتو خپل مخصوص توري (ځ،څ،ږ،ښ) ته کتلي شي،نو په درسته پښتونخوا کښې دا بيا په درې ډوله دي،لکه په کرښه (کرلا ڼيانو)کښې ئې يو ډول،په يوسفزيو او ننګرهاريانو کښې ځانته ،په کاکړي او قندهاري کښې دا بيا بېخي بل ډول صوتي ادائيګي ښائي.يعني حرف يو دی،مګر له دې څخه غږونه بيا د هرې منطقې په اساس جلا جلا ايستل شوي.لکه :د ږ او ښ حروف ،کوم چې دوه ډوله غږ لري( ځيني ئې درې ډوله هم ښائي)دغسې د "ځ" او "ز" يو تر بل توپير،د "څ"او "س"يو تر بله ننښول وغېره (د زيات بحث د پاره وګورۍ ادبي فنون ،د عبدالروف بېنوا ،ليکوالي اِملا و انشا د ګل باچا اُلفت،دپښتو نوې اِملا مُرتبه :ډاکټر راج ولي شاه خټک ،پينځۀ توري ديارلس حرفونه ،د منتظر بېټني،پښتو ليک دود د خان شهيد)

د پښتو ليک دود مسئله په څو رنګه سره اوښتيې ده.لکه ځنې ليکوالان په اړه شويو فيصلو ته هيڅ اهميت نۀ ورکوي.ځيني بيا په دې پوه نۀ لري او ځينې شعوراً دغه ګډوډې د خپل محدوده سوچ تحت غوره دليل په توګه مخ په بره بياي.چې له کبله ئې د پښتو ليک دود د خود سرۍ او علا قائيت په شکنجو کښې لوېدلی دی.د ژبو په پر مخ تګ او يو والی کښې څومره چې ليک دود غوره او مهم ګڼل شوی،دغومره دا يوه حساسه او خطرناکه مسئله هم ده.په دا ليک کښې بې ترتيبي،معنا د هغې ژبې شاته والی او پرېوتون ښکاره کوي.په مقابل کښې هغه ژبې چې اصوات ئې په يوډول حروفو سره ادائيګي لري.نۀ يوائې لوړې او پر مخ تلليې ژبې بللې شي.بلکې په هغه ژبو کښې د اظهار او اِبلاغ کوم مسائل

هم نۀ راپورته کیږي. که څۀ هم په نړۍ کښې داسې ژبې به ډېرې کمې وي.چې د هغې حروف دې په بشپړډول سره د خپلو اصواتو نمائندګي وکړئ شي،ولې ژبپوهان تر ممکنه حده پورې د خپلو ژبو د اصواتو په ترتیب ورته ځنې دغسې حروف ټاکي،چې اِظهار په کښې اسان ،معنیٰ او مفهوم ئې واضح او لیک دود ئې عام فهم وي.

په ۱۹۴۲ء کال کله چې په کابل کښې د لیک دود په مسئله یو څو ادبي مشران راټولېدل،نو د هغوئ مقصد هم دا وو چې څۀ ډول به وکولی شو چې د پښتونخوا د هرې سیمې لهجې په یو مرکزي لیک دود کښې سره راغونډې کړو.پس له هغه دا سلسله څو ځله سره تکرار شوه.د پښتو لیک دود په اړه له دې غونډو څخه پښتو په دې بریالۍ شوې ده.چې یو مرکزي او منلی طرز خط لرلی،خو هغه تېروتنې چې لا تر اوسه زمونږ د ځینې لیکوالانو په اثارو کښې بیا بیا لیدل کیږي.ته پام لرنه او څېړنه به هم بې ګټې نۀ وي.په دا خاطر به دا مقاله کښې د لیک دود په اړه هغه تېروتنه ته خصوصي پام لرنه شوې ده.کوم چې د پښتو لیکوالانو څخه په یو نه یو سبب بیا بیا تکرارېږي.

دلته د عارف صاحب شعري ټولګه " دېوالونه ویښ دي" څخه هغه حروف او حرکات ترڅېړنې لاندې نیول شوي،چې صورت ئې د یو متشکل او یو له منلي لیک دود څخه انحراف لري.لکه د مثال په توګه :همزه یا زَوَرکی "ه" او "ۀ"

"ښ""ز"او "ږ" "ځ"او "څ" او ورسره ورسره د یې ګانو په بېله بېل رنګه استعمال.

**د همزه یا زَوَرکي مسائل**:خیال بُخاري په "پښتو صرف و نحو"کښې لیکي:"د کومو تورو نه چې د یوې ژبې توري جوړېږي،هغو ته دهغې ژبې د هجې توري یا حروف وائي،د پښتو ژبې ټول توري یو څلوېښت دي.په دې کښې دېرش خو هغه توري دي چې په فارسي او عربي کښې مروج دي،یعني : ا ب ت ث ج ح خ د ذ ر ز س ش ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ل م ن و ه همزه ی ې"(۵۶)

خو د اعرابو په ذکر کښې ئې زَوَرکي د حرکاتو په توریو کښې شمارلی:"دا د پښتو هغه مخصوصه حرکه ده چې د پېښ او د زَوَر په مینځ کښې حرکت کوي.د دې علامه یو وړوکې شان همزه ده چې د توري د پاسه ورکولې شي"(۵۷)

بیا چېرې چې ئې د عربۍ حروفِ علت ذکر کړی،هلته ئې د پښتو د علت توري دغسې ورسره یاد کړي:"د علت معنی ناجوړتیا ده.د عربو د خولې نه په ناجوړتیا کښې د وائی اواز ووځي ځکه دغه توریو ته چې "و" "ا" "ی" دي او وائی ترې جوړېږي د علت توري وائي.په پښتو کښې همزه او "ه"هم ورسره یو ځائ کولې شي.ځکه چې دا هم د توریو په تړون کښې د اوږد اواز کار ورکوي".(۵۸)

په پښتو کښې همزه یا زَوَرکی عموماً په "ه"او غونډۍ "ی"د پاسه په مخصوص حالتونو کښې استعمال لري.ولې د "ځ"حرف یو مستقل حرف دی چې په هر حال کښۀ خپل نقش هم په دغه انداز برقرار ساتي.ځکه "ځ" که په توري کښې هر ځای استعمال شي،حالت به ئې هم هغه وي.هلته چېرې چې صیغه د امر وي نو د "ی" د پاسه به همزه ورکولې شي لکه "کوئ،ځئ،راځئ،ورځئ،او ځنې نور،د جمع په توریو کښې هم د "ئ"د پاسه همزه ورکولې شي،لکه :"تاسې تلي وئ" "ورغلي وئ" او ځنې نور.که دوې معروفې "ي" ګانې څنګ په څنګ راشي،نو اوله "ي" ته به څنګ په څنګ ټکي او په دویمه "ي" به همزه لګولې شي.لکه :"یئ"(لکه:تاسې څوک یئ)ورکولې شي.خو که چرته یوه معروفه او ورسره بله مخصوصه "ې" یو ځای راشي،نو په اول صورت کښې به په معروفه "ي" باندې همزه او وروسې مخصوصه "ې" ته به لاندې باندې دوه ټکي ورکولې شي،لکه :ئې .(ته څوک ئې ،کتابونه ئې څه کړل وغېره).خوکه چرته معروفه "ي" ته د همزه پر ځای څنګ په څنګ دوه ټکي ورکړل شي،نو هم اِستعمال ئې سم منل شوی ،لکه :یې (۵۹)

په هائې مختفي باندې د همزه د پاره کُلیه بیا دا ده چې :"په داسې" ه" کښې به لکه زړۀ ،بنۀ،بۀ ته د مخکښې په شان د "ه" د پاسه همزه وي.په افغانستان او سویله پښتونخوا کښې به هم دا رنګه لیکلی شي،دا "ۀ" عموماً د مذکر او "ه"د مونث علامت په توګه کار ورکوي،البته ځنې توري په کښې استثنیٰ لري".لکه خوشحاله او دولته ،تۀ،زۀ،څۀ،پۀ،نۀ،کۀ،زړۀ،اوبۀ،وغېره.(۶۰)

ځنې وخت د جمع په توریو کښې هم د ی د پاسه همزه ورکولې شي لکه:دوئ،هغوئ او ځنې نور.(هم دغه توري کله کله د تعظیم د پاره هم په کار راوستل کېږي .)

د عارف صاحب په اشعارو کښې دغه د هائې ملفوظي او هائې مخفي او یائې فعلي("ۀ" او "ئ") استعمال چې څۀ ډول شوی،نمونه ئې په دې لاندې اشعارو کښې وګورئ:

**د "ه" او "ۀ" استعمال**:

هغه به هم وي په کي پټه ستا جلوه ليدلې
کَړې که چا وي، د سپوږمۍ د روڼ مشال ننداره (۶۱)

په دا بره اوله مصرع کښې اول توری "هغه" نۀ دی بلکې "هغۀ" دی.ځکه چې شعر واضح دی او د "هغۀ" څخه مطلب ښکاره کېږي.

دغسې په مخ ۱۶۲ باندې شعرونو کښې د دې اِستعمال وګورئ:

مخ يې روغ دے د کتو دے نور بدن يې اکثر پرې پرې
هغه يار د بل په لاس په ناليدلي خنجر پرې پرې (۶۲)

په دې کښې د هغه استعمال سم شوی،ولې د مقطع په شعر کښې د هغه او د هغۀ توپير نۀ دی شوی.شعر وګورئ:\

تا يو زخم وو کړلے هغه نورې ځانګې وکړې
دلته روغ رمتې عارفه ! هلته دے د زړۀ سر پرې پرې (۶۳)

په اوله مصرعه کښې د "هغه" په ځای که "هغه"وليکل شي نو معنا به سمه ورکړي.

**ؤ که وۀ**:"ؤ " يا "وۀ" چونکې د واحد مذکر په صيغه لښې عام استعمالولې شي چې مقابل يا د مونث توری يې "وه" دی.هر کله چې تانيث د پاره اکثر "ه" استعمالولې چي (پرته که ځنې اِستثاؤ) ،نو په مذکر کښې "ه"غورځول او يواځې په واو همزه لګول ،به کوم ښۀ بدعت نۀ وي،د دې استعمال په "دۀ" او "ده" کښې هم ښۀ واضح دی.ځکه په کار ده چې د واو په سر همزه ورکولو په ځای په خپله "ۀ" له واو سره يو ځای کړل شي.د ښاغلي عارف هغه شعرونه چې د "ؤ"استعمال په کښې نۀ دی شوی،له هغو نه د نمونې په توګه دا شعرونه وګورئ:

سفر د ورځې ؤ تهيه مي له ماښامه وکړه
ما ابتدا د دې کتاب له اختتامه وکړه (۶۴)

دغه "ؤ" واحد مذکر دی او تېرو زمانه ښائي .هم په دغه څېر يو بل شعر ته ئې پام وکړئ چې د تذکير او تانيث فرق ور کښې پېچل شوئ.

بيا کومو لاسونو د سکون تالاب ته تس کړلې
وه د اوبو کاڼې ! دائره دي لا چا وغوښته (۶۵)

**ساړه که ساړۀ**:په پښتو کښې سوړ واحد او جمع ئې "ساړۀ" او د "سړه" جمع "سړې" ده.د دې اړوند استعمال يو بل صورت هغه وخت راځي،کله چې يو څوک چاته مخامخ وي.نو هم ورباندې د "سَړه"غږ کېدۀ شي.لکه :سَړه (په ځنې علاقو کښې سَړيه) دا کار داسې مه کوه،خو په پښتو کښې "ساړه" د سَړې په معنا نۀ استعماليږي خو که چرته "ساړه" بې د همزه وليکل شي.نو لازمه نۀ ده چې لوستونکی دې هم هغه تلفظ او معنا ترې مراد واخلي کوم چې ليکوال يا شاعر غوښتنې ده.د نمونې په توګه دا لاندې شعر ته پام وکړئ چې د همزه نۀ راوړلو له کبله ئې معنا او تلفُظ څومره مبهم دی.

دلته نشاط هلته ساړه اهونه سر په سر دی

د استبداد مانۍ او رنګ کورونه سر په سر دي (۶۷)

په دې معنا کښې تر څو چې د اهونه توري معنا په ذهن کښې ورته و نۀ ساتل شي،تر هغه "ساړه" په معنا څوک نۀ رسيږي حال دا چې "سَړه يا ساړۀ "معنا په خپل ذات کښې واضحه ده.خو که د همزه اهتمام ونۀ ساتلې شي.بيا نو لوستونکی له خپلې مرضۍ څوک راګرځولی شي.

**سرهَ که سرۀ**: **سَره که سره**:

دا هر يو توری خپله خپله معنا لري،لکه "سرهَ واحد مونث(رنګ او کېفيت دی) او "سرۀ" جمع ده د "سُور"(چې د رنګ د پاره راځي).

د"سَره" استعمال په دا جُمله کښې وګورئ:د هغۀ سَره نُور څوک وو.تۀ هم ورسَره راځه.او د "سره"استعمال په دا جُمله کښې وګورئ.له سره دې دا استعماليږي ،لاندې ذکر شويو شعرونو څخه په يوۀ شعر کښې د دې وضاحت شوی)په دې لاندينې شعر کښې د دې توريو کيفيت ته پام وکړئ:

چې تر پرونه ئې لا سته د بل په وينو سره وو

خلک ! خوړ دې نن د هغه سړي له سره اخلي (۶۷)

په دې دواړو مصرعو کښې "سره" او "سره " (سرۀ او سرَه) جلا جلا معنا ورکوي او هم ځانته تلفُظ لري.البته "سپېره "مونث دی،ولې په لاندې ورکړل شوي شعر کښې چې د دې څۀ ډول استعمال شوی،له هغې څخه داسې برېښې،ګويا چې غر مونث نه بلکې مذکر دی.شعر ته پَام وکړئ:

سرې لمبې وې سرۀ اورونه ، ستا به هېر وي زما په یاد دی
زۀ او تۀ وو سپېره غرونه ، ستا به هېر وي زما په یاد دي (۶۸)

په نظم " نغمه نغمه فضا " کښې خپل ژوبل احساس ئې په سپینه واوره د سرو وینو له ښاخکو سره مشابه کړی.چې یو ښکلی خیال او لوړ تصور ئې په شعر کښې نغښتی،ولې دلته له ښاخکي سره د "سره" په ه همزه نۀ ورکول د مذکر په ځای د مونث معنا ورکوي.حال دا چې ښاخکی مذکردی نۀ چې مونث،شعر وګورئ:

لویه خدایه!
د اُمید غوټۍ که ګل شي
د حالاتو په ړانده مېچن کي اوس هم
وجودونه رېز مرېز دي
دا سره ښاخکي
د سرو وینو
د اِحساس پر واوره باندي
ګلان سپړي پرهارونه لاله خېز دي (۶۹)

**تیاره او تیارۀ (تېرۀ)**:تیار"واحد مذکر ،" تیاره"واحد مونث."تیارۀ" (تَیرۀ)(په ځنې لهجو کښې ورته تَریۀ هم وائي)په کپله جمع ده،خنې وخت وخت د دې جمع"تیَرې"راځي،لکه تورې تَیرې،د قبر تَیرې.خو په لاندې ورکړل شویو اشعارو کښې"تیاره" (مونث) چې "تیار"ئې مذکردی."تیاره"(په معنا دتیَرۀ) په اِملا کښې نۀ دي سره جلا کړل شوي.د شعر نمونه ئې وګورئ:

خدای به کړي روڼ تیاره او تاک ، زیاته لمر ځیره وهي
سپېدو د شپې ګرېوان کړو چاک ، زیاته لمر ځیره وهي (۷۰)

که دلته له "روڼ " سره " تیاره" د "تیَرې" په معنا راوړل شوي وی ،نو په کار وه چې په "ه" باندې همزه لګول شوې وی.کني د دې شعر معنا بیا هغه نۀ ده کومه چې له شعر څخه اخستل په کار ده.د تورې معنا له جملې څخه واضح کېدل په اصل کښې د یوې ژبې د پربوتون او کمزوریتوب دلالت ورکوي.ولې پښتو په هیڅ صورت داسې نۀ ده چې توری دې

ځانته معنا بشپړه نۀ کړی شي، او جمله ته دې اړتیا ولري. دغه "تیاره" توري په نورو شعرونو کښې هم کتلی شئ، لکه :مخ ۴۷ شعر ۶ م. مخ ۶۹ شعر ۳ م.

**نه که نۀ**: په پښتو کښې د "نه" او "نۀ" اِستعمال هم هغسې واضح توپیر لري لکه په اردو ،انګرېزي یا نورو ژبو کښې چې نه او نهین او NO and Not. د "نه" او "نۀ" د توپیر په اړه لاندني شعر وګورئ.

خدایه ! اوس ئې خپل کړو دغه کوم انداز
هو ئې وي په شونډو کي هم نۀ غوندي (۷۱)

یو بل شعر کښې دا "نۀ" ناسم اِستعمال ته پم وکړی:

هغه د خوارو کوځو خوار دي هم په یاد دي ، که نۀ ؟
لکه تېر عمر ، هسي پاته دي تر شا شوې لاري (۷۲)

په بل شعر کښې ئې هم دغه حال دی، لکه :

خالي خپل کورنۀ ، راته سُور اُونړی ګرده شوله
دا د تهذیب پېړی، وما ته دهشت ګرده شوله (۷۳)

**ته که تۀ**: د دې دواړو توریو اِستعمال (د معنا او تلفُظ په لحاظ) هم یو بل جلا دی، که په خپل ځای ئې سم اِستعمال و نۀ شي. نو معنا او مفهوم ئې حله اوړي. لکه په دې لاندې شعر کښې ورته پام وکړئ:

پرې دې ښومَ لمر ته ! په زاړه تهذیب پسې شولې
ته لکه پردی، سایه په خپل قریب پسې شولې (۷۴)

په دې مخکښې شعر کښې هم د " ته" او " تۀ" توپیر نۀ دی ښودل شوی.

ته به ورځې ته به ئې ګورې تاته حال درکوي
له خپله مخه آئینه چا ته کاتۀ نۀ کوه (۷۵)

د دې اول شعر اوله مصرعه کښې " ته" په سم حالت اِستعمال شوی، ولې په دویمه مصرعه کښې " ته" ضرورت لري و همزه ته یعني دا " ته" نه بلَکې "تۀ" پکار وو. دغسې د دویم شعر په اوله مصرعه کښې د "ته" درې ځله اِستعمال راغلی، چې اول دوه واره "تۀ" او دریمه بیا "ته" دی. ورپسې بیا په دویمه مصرعه کَښې "ته" سمه راوړل شوې ده.

**ښه او ښهٔ**:د همزه اِستعمال په دې توريو کښې هم په دوه ډوله دی لکه :ښه خبره دې وکړه،ښهٔ دې ووئيل ،ښه ده نُور به درسره ښهٔ نهٔ کوم،ښهٔ کوه ښهٔ اورهمښه نو ښهٔ ئې .په دې مجموعه کښې دا د "ښه" او "ښهٔ" توپير هم ډېر کم ښودل شوی،لکه په دې لاندې شعر کښې ئې وګورئ:

لکه ښه ناول تر پايه مي ساتي په تجسس کي
يار هغه دے ورته ګورم راته کاندي کيسې نوي (۷۶)

لکه د مخه مو ذکر کړی چې د کومې ژبې د توريو تلفُظ يا د معنا څرګندېدنه کهٔ و جُمله ته اړينه وي مو هغه کمزورې،پرېوتې يا د ګرائمر او اِملا له لوري وروسته پاتې او ناځرګندې ژبې بللې شي.مګر پښتو که په دا څېر وکتلې شي ،نو د ګرائمر په جوړېښت او هم د اصواتو په بشپړونه کښې يوه غني او بډايه ژبه ده،چې اصوات ئې واضح او مستقيم دي.البته هغه حروف چې ئې له عربۍ څخه راپور کړي په هغو کښې ځنې ضرور څهٔ قدر جنجالي دي.خو په نژدې دورو کښې پس له هغه چې د پښتو د حروفو او اصواتو ادائيګې ته يو منظم دود کښېښودل شوی،ډېر کم امکان پيدا شوی چې اِملا يا اصوات دې په صورت کښې کوم مشکل ولري خو له حقائقو سر غړونه او يا له مروجه اُصولو سرغړونې څخه مطلب په ليک کښې علا قائيت ته فوقيت ورکول او يا هسې ځانته ترښخ وهل دي.په دا سبب د توري معنااو تلفُظ و جملې ته پرېښودل يا عام فهم شمارل،دژبې په قدر و قيمت سوا کولو د پاره کوم مثبت دليل نهٔ دی بلکې دا يوه ادبي او ژبني تېروتنه ده،چې زمونږ ليکوالان ئې د علا قائيت يا دخېل خېلۍ په چوکاټ کښې پښتو ته رانښاسي.

دا د "ه" او "ۀ" استعمال نهٔ کولو په توپېر يو څو توري نور هم داسې شته ،چې هلته د دې خيال نهٔ دی ساتل شوی لکه :زاړه (مخ ۹۰ شعر ۴ او مخ ۱۵۱ شعر ۴)، او به (م ۹۴ شعر ۳)،نيکه(م۴۵ شعر ۷)،ويده(م۱۰۱ شعر ۳،م ۱۱۱ شعر اول،ورپسې د مقطع شعر کښې)،اوږده(م۱۱۸ شعر ۴)،پټېده(م۱۴۲ شعر ۲)او ځنې نور.دا ګرد هلته په شعر کښې د زاړهٔ،اُوبهٔ،نيکهٔ،وېدهٔ،دهٔ،اوږدهٔ،پټېدهٔ په تلفُظ او معناوې راځي.د دې استعمال واحد مذکر د پاره شوی نهٔ چې د واحد مونث په توګه.

**د ي ګانو په اِستعمال کښې د همزه مسائل**:

دپښتو رسم الخط په حقله چې کومې غونډې یا جرګې شوې دي له هغو نه وروستۍ جرګه چې په کال ۱۹۹۰ کښې دپښتونخوا په ښارګوټي باړه ګلۍ کښې ترسره شوې ده. د دې غونډې په برخو والو کښې دپښتونو متو لیکوالان، ادیبان او ژبپوهان له ډېر بحث مباحثې وروسته یو څۀ نتیجه ته سره ورسېدل. د دغې نتیجې په اساس دوئ اوولس داسې مُتفقه پرېکړې اجرا کړې، چې دمخه ئې په پښتو لیک دود کښې رواج نۀ لرۀ. له دې سره دا سفارښتنه هم په تاکید سره و شوه. چې پس له دې هغه حروف چې دمخه ئې ناسم رواج درلود، دې په اینده کښې هم ددغو پرېکړو په طرز کښل کېږي.

دسیمنار په نهمه اولسمه پرېکړه کښې راغلي، چې: "دفعل امر په صورت کښې به دغونډۍ ی دپاسه همزه لګولې شي، دجمع په حالت کښې به هم په ئ همزه لګولې شي، لکه: تاسې تلي وئ. هلته چېرې چې دوې معروفې ئ څنګ په څنګ یا یوځائ سره راشي، نو په دې کښې به دویمه ئ ته همزه ورکولې شي. لکه: یـئ. که چرته په کوم توري کښې یا ځانته مخکښې معروفه ي او ورپسې مخصوصه ئ راشي نو معروفه ي به په همزه او مخصوصه ي ته به لاندې باندې ټکي ورکولې شي، او یا که معروفه ي ته د همزه بغېره څنګ په څنګ دوه ټکي ورکړل شي، نو هم سم دي. لکه: ئې، يې". (۳۴)

د دې پرېکړې په اساس د ښاغلي خېرمحمد عارف شعري ټولګه کوځېرل شي، نو ورکښې ډېر داسې توري په نظر راځي، چې د اصواتو یا دمخرج له لوري د لیك دود تله ئې سمه نۀ ده. یو څو بېلګې ئې دنمونې په توګه وګورئ:

**دوی که دوئ:**

مځکه دنورو شوه دوی ما غوندې بې کوره ګرځي
ازار ګټلو په ګټلي اسمان څۀ جوړه کړه (مخ ۲۴)
په دې شعر کښې د "دوی" په ځای د "دُوئ" استعمال
مناسب ښکاري.

**هغوی که هغوئ:**

**زوی که زوئ** :

چــــې دا یـــــو څـــــو د بـــــرې غـــــواړي لېــــونی راغلــــی
هغـــــوی ویشـــــتلو تـــــه ددې چـــــوري ســـــلا کولـــــه
یـــــوه ســـــپین ســـــرې بانـــــدې راغلـــــه ورتـــــه ویـــــې وئیـــــل
د ګـــــونکي زوی پـــــه ژبـــــه بانـــــدې خپلـــــه مـــــور پـــــوهېږي

د اول شـعر دویمـه مصـرعه کښـې د" هغـوی " پـه ځـای " هغـوئ" راځي،کـه پـه دې همـزه ورنـهٔ کـړل شـي، نولـه دې سره د" هغـوئ" تلفُـظ بیـا سم نـهٔ اختـتل کېږي. پـه دویـم شـعر کښـې د *زوی* پـه ئ بانـدې همـزه لګـول بـه سـم وي. ځکـه چې همـزه پـه تـوري کښـې غنـا پیـدا کوي اوپـه دې برنـي صـورت کښـې دا وچ کلـك غـږ راباسـي. دغسـې نـورو توریـو کښـې هلتـه چېرې چـې همـزه اړتیـا نـهٔ لـري همـزه وربانـدې ورکـول یـو اضـافي اودخپـل واکـه امـلا طـرز تشـکیلوي، لکـه: کـولائ، ویـلائ، اخـتلائ، لیـدلائ، لـړزوائ، وائ، ولاړئ، پرېښـوئ (مـخ ۱۰۰ شـعر ۲، مـخ ۹۹ شـعر ۳، مـخ ۱۱۳ شعر ۶،مخ ۱۴۳ ټـول غـزل، مـخ ۱۶۸ ټـول غـزل، مـخ ۱۰۱ شـعر ۴ ) اوځنـې نـور. پـه دې ګـړدو همـزه نـهٔ لګـول کېږي. بلکـې ددې توریـو ورسـتی " ی " هـېڅ یـوه نخښـه نـهٔ لـري. دا پـه پښـتو کښـې هغـه " ی" ده کومـه چـې دیوسـفزی د مجهـولې " ی" پـه بـدل کښې په ختك، کاکړي او قندهاري لهجه کښې ادائیګي لري.

**د ښ اســتعمال** : **"**هـر کلـه چـې " ښ" دتـوري پـه میـنځ کښـې راشـي،نو پـه خپـل شـکل بـه پـوره لیکـهٔ شـي،لکه: کښـې، کښېناسـتل، نخښـه، بخښـل، غوښـه، کښېوتل، کښېښودنه اوځنې نور".(۳۵ )

پـه دغـه اُصـول " دېوالونـه ویښ دي" کـه وکتـل شـي،نوپه زیـاتره توریـو کښـې د" ښ "حرف په واضح توګه له منځه لوېدلی،لکه:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وخت | په | دائره | کې | ایسارکړی | یم |
| ځکه | مې | له | ژونده | دې | ختلي لاس |

نظر ئې دا دی چې دا هم ستا د ماضي نښه ده

یوه نقطه وم چې قصداً له خاله وایستمه

په یو بل شعرکښې چېرې چې " ښان " توری په " ښ " سره لیکل شوی، که څۀ هم "ښان "په " ښ " سره دی. ولې "خ " ورځنې پاتې کړل شوې ده. یعني " ښه "او " ښان " پر ځای " نخښه" او " نخښان " راځي. چونکې پښتو له فارسي او اُردو څخه د نشان لیکلو تاثر په ځان منلی، ځکه په کار ده چې دا دې نشان او یا نخښان ولیکلې شي.

شعر ته ئې پام وکړئ:

دلېوتـــوب ښـــان دهجـــر پـــه صـــحرا پـــاتې شـــو
لار مـــې لـــه مخـــه وه خـــو پلونـــه مـــې ترشـــا پـــاتې شـــو
(دېوالونـــــه ویښ دي ،مـــــخ ۱۳۵ )

**ږ او ځ** : د " ز" ، " ځ" ، " ظ" او "ض "حرفونـو اصـوات نـۀ یـوائې پـه پښـتو کښې اِبهام پیدا کوي، بلکې هغه تهولې ژبې چې عربي رسمُ الخط لري، هم په دغه څېر لـه مُشـکل سـره مخـامخ دي. پـه دې کښـې یـوائې " ځ" هغـه حـرف دی چـې د پښـتو مخصـوص تـوری بلـل کېـږي. چـې اړونـد اِسـتعمال ئـې پـه پښـتو کښـې " ج " حـرف دی. لکـه: پـه یوسـفزۍ او لـودهي (مروت،ګنـډپور ،نیازي وغېـره) لهجـه کښـې هـر هغـه تـوری چـې د " ځ" ادائیګـي لـري، هغـه بیـا ددغـو لهجـو خلـك پـه " ج " سـره ادا کـوي. چـونکې دا پـه اصـل کښـې دپښـتو " ځ " دی نـۀ چـې " ز " او یـا " ژ"، لکـه دمثـال پـه ډول: د ژرنده،زرنده،جرنـده ( ځرنـده) اصـل پـه " ځ " او " ج " سـره لیکـل صـحیح

دي نۀ چې په " ز" او "ژ"سره. دغسې " ژ " په زبه،جبه (ځبه)کښې.چې اصل ئې په "ج " او " ځ" کښې دی نۀ چې په " ژ " او " ز" کښې. پرته له دې نور هغه ټول توري چې ريښه ئې له دې نسله ده. هم په دغه دود دي. له دې ځخه يوه نتيجه دا هم راوځي چې د" ژ " حرف پښتو نۀ لري. او هغه ګړد توري چې مونږ ئې په " ژ " سره ليکو، په اصل کښې د " ز"او " ځ" حروف دي، نۀ چې د " ژ" . د " ژ " په حرف ليکل شوي د ټولو توريو ريښه که په لُغاتو کښې و پلټلې شي،نو په اسانه معلوميدلی شي چې په دې توريو کښې بنيادي د" ز" ،"ږ" او يا د " ځ " حرف او صوت پټ دی.

دا " ز" او " ځ " اړوند اِستعمال که د ښاغلي عارف صاحب په شاعري کښې وکتلې شي.نو څۀ قدر تضاد لري،لکه:

دځنځير،ځانګې،ځنګوم،ځنګانۀ،ګرزي،يوازې او ځنې نور توري. د دغه توريو په سر کښې د ځ پر ځای ز استعمال مناسب ښکاري. ولې چې د ز او ځ اِستعمال معلوم دی. لکه: ځنځير په زنځير سره،ګرزي په ګرځي سره اويوازې په يواځې سره ليکل کيږي.

په لاندينيو اشعارو کښې د " ځ " او " ز" استعمال ته پام وکړئ:

زۀ د حالاتو له ځنځيره سره تلم راتلمه
ستا ديادونو له بهيره سره تلم راتلمه
(د ېوالونه وينې دي، مخ ۷۵ )

دغسې په مخ ۸۲ شعر ۵ کښې د ځنګانه توری په " ځ " سره لیکل به سم نۀ وي، بکلې دا به په " ز " سره لیکل کېږي. ورسره په مخ ۸۷ شعر ۳ کښې "ځنګون" نه بلکې په ز سره " زنګون " راځي. یوازې او ګرزي کښې د " ز"په ځای "ځ "دی نۀ چې" ز" . په لاندې شعرونو کښې دغه استعمال وګورئ:

د ژوند یوازي نوم دا نۀ دی چې ژوندی پاتې یم
څه حسرتونه لرم خلکو!مرګنې پاتې یم
(دیوالونه ویښ دي، مخ ۱۱۳ )
مړکړ دي وی درګهه دې ګرهی نۀ وي
چوك ګرزي خوربه یاره بې چا په لس
(دیوالونه ویښ دي ،مخ ۱۲۰ )

**ې کـه ي**: په کاکړي او قندهاري لهجه کښې دمعروفه "ي" استعمال کله کله دمخصوصې " ې" دپاره هم راوړل کېږي. لکه په دې لاندې شعرونوکښې ورته پام وکړئ:

یه د لویوغرو جانانه!مونږ به څنګه سره یو شو؟
دواړي وړي رضا دبل ده،دواړه پاڼي دخزان یو
(دیوالونه ویښ دي، مخ ۲۸ )

په دویمه مصرع کښې دواړي وړي او پاڼي په معروفه " ي" سره لیکل په معنا اومفهوم ځومره فرق اچولی. دلته مخصوصه " ې" استعمالول مناسب وو.

دا د معروفه اومخصوصه " ي،ې " استعمال که څهٔ هم یواځې د ښاغلي عارف په لیك پورې مخصوص نهٔ دی، بلکې دلته هر دویم لیکوال شعوراً هم دغه رواج خپل کړی او توپیر ته ئې دلیل کښېښودی چې: مونږ ئې هم دغسې وائیو. لکه: په " چې،کې، دې " اوځنې نوروټکیوکښې. خو د دې توپیر علت دا دی چې دا سیمه چونکې فارسي ته ورځرمه ده او په فارسي کښې د دې ي ادائیګي هم په دغه خفیف غږ سره کېږي. ځکه دا نو دفارسي اثر دی. چې معروفه ي په لیك کښې دوه ډوله استعمال ته اړشوې ده. مګرعلاقائیت یا لهجوي توپیر ته دومره فوقیت ورکول چې له کبله ئې د توري معنا اومفهوم او یا رېښه ځله وپېچل شي، د لسانیاتو د اُصولوا وقواعدو په رڼا کښې غوره فعل نهٔ دی بلل شوی.

د عارف په شاعرۍ کښې د معروفه " ي" ، مجهوله " ې " او ځنې وخت د یائې تانیث اِستعمال چې څهٔ ډول اِختیار کړل شوی، په دې لاندې ورکړل شویو اشعارو کښې ورته پام وکړئ:

تابه د تحریر غوندي په کښتو سترګو وایمه
تاته به دزړهٔ سره! دي تاپه مخ کي نهٔ ګورم
(دېوالونه ویښ دي ،مخ ۳۹ )

په دې کښې د" غوندي، غوندې،غوندي " په څوډېرو معنا راتلی شي.هم دغسې په "دي" او"کي" کښې معروفه " ي " راوړل نهٔ یواځې دشعر خونداوسُرله

منځــه ورېي بلکــې لــه شــعرڅخه معنــا را ایستلوکښــې هــم لوســتونکی لــه کـړاو ســره مخــامخ کــوي. بلــه د حېرانــۍ خبـره دا چـې پــه "کښــتو" کښــې خــو د "ښ" حــرف راوړي، ولــې پــه "کــي" کښــې بيــا د "ښ" دســتور تــه هــېڅ غــاړه نــۀ ږدي. پــه دغــه اســاس پــه مــخ ۸۹ پــوره غــزل دغــه د معروفــه "ي" پــه دود قافيــه کښــې د مخصوصــې "ې" استـعمال نـۀ دی منـل شـوی. پـه نـورو ځـایونو کښـې بیـا د یـائې تانیـث او یـائې همـزه یـا د امـر پــه "ئ" کښــې فــرق نــۀ دی پــه نظـر کښــې نيــول شــوی. لکــه: پــه مــخ ۸۹ شــعر۴ کښــې د بلــوئ پــه ځــای بلــوی، ناسـم ښکاري، بیاورپســې پــه مــخ ۱۴۶ شــعر کښــې د روزي پـــه ځـــای د روزۍ راوړل بـــه مناســب نـــۀ وي. پـــه مـــخ ۵۵ پـــوره غـــزل کښـــې دغـــه دمعروفې ئ مسئله ده، چې له کبله د ګړد غزل روح مجروح شوی. وګورئ:

هلتــــــــــــه پــــــــــــــر ممبــــــــــــــر د امامـــــــــــــــت ولاړ
دلتــــــــــــه دي پــــــــــــه وينـــــــــــــو دي لړلـــــــــــــي لاس
(دېوالونـــــــــه ويښ دي ، مـــــــــخ ۵۵)

پـــه دويمـــه مصـــرع کښـــې "دي" دوه ځلـــه راغلـــې ده چـــې دواړه جـــلا صـــورتونه او جـلا غړونـه ورکوي،نـو کـه دا هـم پـه دغـه ورکـړل شـوي انـداز ولوسـتلې شـي،نو بـه ئـې څۀ خوند وي. خو که اوله "ې" او دويمه "ي" وګڼو نو غاړه خلاصه ده.

مخکښـې يـو بـل شعرکښـې دمعروفـې او مجهـولې ئـې فـرق نـۀ کولـو لـه کبلـه کړکېچن صورت ته پام وکړئ:

راشــــــي خپـــــل کـــــاروکړي زياتــــــه شــــــي روان
وخـــــت خـــــو بـــــس فقـــط لکـــــه مـــــزدور ايســــي
(د ېوالونــــــــه ويښ دي، مـــــــخ ۵۶)

ددې شعر اولـه مصـرع کـه څـوك داسـې ووائـي چـې: " راشـې خپـل کـار وکـړې زياتـه شـې روان" نـو ئـې څـوك راګرځـولی شـي. ولـې چـې پـه ليـك کښـې د معروفـې او مجهولې ئې هيڅ اهتمام نۀ دی شوی.

**تـــوري ځلـــه پيونـــده ول**: پـه پښـتو کښـې دا بـدعت ډېر عـام شوی چـې د چا څۀ ډول زړۀ وغـواړي تـوري دې برنـاحق يـو لـه بـل سـره پېونـد کـړي. ځنـې بيـا ددې دپـاره دا دليـل راوړي. چـې لـه دې سـره پـه ليـك کښـې اختصـار پيـدا کيږي. خـو لـه دې سـره د تـوري پـه معنـا اومفهـوم غـوڅ اثـر لـوېږي. خوکـه توجـه ورتـه وکـړی شـي،البته پـام نـۀ لـرل ئـې بيـا ځـواب نـۀ لري.دغسـې تـوري لکـه: " لـوجې، نـدي، نکـړي، پخپلـه، پکښـې، پکـار، پخلـه، پخولـه،لپاره، پخـوا" او ځنـې نـور. پـه دا حقلـه د نـړۍ دپـرمخ تلليـو ژبـو د ژبپوهـانو رائـې کـه وکتلـې شـي. نـوهيڅ يـو ژبپوهـ ددې سفارښـتنه نـۀ ده کـړې. چـې برنـاحق او يـابې غوښـتې دې تـوري يـو پـه بـل پسـې سره وتـړل شـي. پـه تېـره بيـاپـه داسـې حـالاتو کښـې چـې د داوړو توريـو د مـېلان لـه کبلـه کـوم حـرف لـه منځـه ولاړشـي يـا دې يـو تـوری نيمګـړی او بـل پـوره ځلـه وتـړل شـي. لکـه د مخـه چـې ئـې مثالونـه وړانـدې کـړل شـول. يعنـي د دې ليـك داسـې پـه کـار دی لکـه: "لـه وجـې نـۀ چـې لوجې،نـۀ دي نـۀ چـې ندي،نـۀ کـړي نـۀ چـې نکـړي، پـه خپلـه نـۀ چـې پخپله،پـه کـار نـۀ چې پکار،په کښې نۀ چې پکښې،په خوا نۀ چې پخوا ،له پاره نۀ چې لپاره " وغېره.

" دېوالونه وينښ دي" کښې د توريو دغه ډول يو په بل پسې تړلو بدعت هم يو نيم ځای ليدل شوی. لکه: په مخ ۲۲ شعر يو او۳، مخ ۱۹ شعر۴، مخ ۶۱ شعر ۱،مخ ۲۲ د قطع شعر،مخ ۱۷۱ شعر ۵ او څني نور.

پرته له دې دعارف صاحب په ليکنه کښې د " څه،څۀ او څخه" ترمنځه توپير هم نۀ دی شوی. يو بل توری چې په پښتو کښې ډېر مستعمل دی،هغه د"شل" توری چې يود هندسه ښودنې په معنا اوبل دشل کېدويا دلاس او پښې شل کېدنې په معنا راځي. خودغه توری" شل" د لاس او پښې يا د يو کوم اندام دشل کېدو په معنا داسې نۀ دی،بلکې دا توری " شيَل " دی. لکه: "شيَل،شيَلېدل،شيَلېدنه،شيَلول، شيَل شوی " وغېره. دا ئې په پښتو کښې ډېره سمه او فطري بڼه ده. ځکه په کارنۀ ده چې دا دې هم هغسې له "شل" سره مشابهه وليکل شي.

په دې شعر کښې وګورئ:

زما دعقيدت غوندي شل شوي دي
لوړ په دعا نۀ شوخوپ وهلي لاس
(دېوالونه وينښ دي، مخ ۵۵ )

اوس که له دې شعرڅخه په اوله مصرع کښې د" غوندي " معنا دبار غوندي (چې واحد ئې غوندی راځي ) واخيستل شي اوله " شل " څخه شل عدد معنا وخيستل شي، نوبه څۀ ترې جوړشي. بل په " لوړ " کښې په واو باندې زبر نۀ راځي.

**نتیجــــه** : ژبـه د اصـواتو مجموعـه ده اود اصـواتو نمائنـدګي پـه حروفـو سـره کـولې شـي. حـروف اشـارې يـا علامـات دي د اشـياوو. او اشـيا واحـد يـا جمـع دي. چـې ځنـې مفـرد او ځنـې مُرکـب دي. چـونکې اصـوات پـه بشـپړه توګـه دحروفـو پـه يومحـدود نظـام کښـې بنـدول يـو مُشـکل او کـړکېچن عمـل دی. خوشـومره چـې ديـوې ژبـې حـروف دځپلووئيونکيـو اصـوات پـه ښـۀ طـور صـورت پـذير کـړی شـي، هغه ژبـه يـا ژبـې تـل پـاتې اومترقـي بلـل شـوې دي. شـومره چـې د يـوې ژبـې اصـوات او حـروف واضـح او مسـتقيم وي، هغـومره ئـې اثـر زيـات او د اشـياوو نومونـه يـا دالفـاظو ذخيـره ئـې پريمانـه وي. پـه دغـه څېـر کـه دپښـتو حـروف تهجـې او يـا داِمـلا نظـام وکتلـې شـي، نودپښـتو ځنـې حروفـو څـۀ پـه ليکنـه ياپـه اِملاکښـې سـخت کـړکېچ اچـولی.(چـې مثالونـه ئـې پـه مقالـه کښـې ورکـړل شـوي).دا هغـه حـل طلب مسـائل دي چـې د پښـتو ژبپوهـانو توجـه ورتـه پـه کـارده. کـه څـۀ هـم لـه دې څخـه ځنې مسـائل هغـه دي، چـې پـه بيلـه بيلـو غونډو کښـې ئـې حـل تجـويز شـوی. خـوځنې ليکـوالان دځپـل علمـي هـوډ او يـا دځپـل علاقائيـت پـه پرچـار کښـې، مسلسـل وربانـدې تېـری کـوي. چـې لـه کبلـه ئـې پښـتو ليـك دود دعلاقائيـت او يـا داِنتشـار وخـوا تـه روان کـړی. ځکـه ضـروري ښـکاري، چـې پښـتانۀ عالمـان او ژبپوهـان دې پـه دا موضـوع يوځـل بيـا سـره کښـېني او د ليـك دود هغـه مسـائل دې مطـرح کـړي، کـوم چـې پـه پښـتو ليـك دود کښـې دنفـاق باعـث ګرځېـدلې. خـو دلهجـو يـو مـخ نفـي کـول بـه هـم دژبـې او ادب دپـاره ګټـه ور نـۀ وي. ولـې چـې لـه دې څخـه د پښـتو لرغـونې پانګـه تـه زيـان رسـېږي. پرتـه لـه دې پـه علاقـائي دود او يـايو مخصـوص سـوچ دې پـه دې خـاطر ټينګـار ونـۀ کـړی شـي. چـې مـونږ خـو ئـې هـم دغسـې وائيـو او دا زمـونږ لهجـه ده، نـوئې هـم خـود پـه دغـه څېـر ليکـو. لـه دې څخـه علاقائيـت تـه تقويـت او نفـاق تـه دهـوا ورکولـو اِمکـان زيـاتېږي. پـه رسـمُ الخـط کښـې د اِنتشـار معنٰـی قـومي اِنتشـار ده، نـۀ چـې کـوم دپښـتو خـدمت.

نو که مونږ غواړو چې خپل ملي سالمیت، وحدت او قومي وقار په نړۍ کښې قائم او دائم وساتو. بیا لازم ده چې دخپل لیك دود کره والي ته په اخلاص متوجه شو.

❖❖❖

## حوالې


۱: سلیم اختر، ډاکټر،ادب اور کلچر، سنگ میل پبلي کېشنز لاهور، ۲۰۰۱، ص. ۲۹۶.

۲: پښتو- پښتو تشریحي قاموس.دویم ټوک،(ت-خ)د افغانستان دعلومو اکېډمي دژبو اودبیاتو انستیټوټ.دژبپوهنې څانگه،کابل افغانستان، ۱۳۶۰ هـ ش، مخ ۱۱۴۵

۳ : دغه بره ،مخ ۱۵۸۳

۴ : درياب،پښتو لُغت: مولفین قلندر مومند ،فرید صحرائي، این ډبلیو اېف پي،تېکسټ بُك بورډ ،پېښور، ۱۹۹۴، مخ۱۳۱۲

۵ : درياب: مخ ۲۲۴ .

۶:اظهر الُغات اردو،اظهر پبلشرز، اردو بازار، لاهو، ۱۹۹۴، مخ۲۳۳

۷:درياب: مخ ۹۷۷

۸ :درياب: مخ ۱۲۲۰

۹ :پښتو- پښتو تشریحي قاموس،اول ټوك،مخ ۹۲۳

۱۰ :درياب: مخ ۸۰

۱۱درياب: مخ ۷۸۳

۱۲ پښتو پښتو تشریحي قاموس،دوهم ټوك، ۱۳۶۰ هـ ش، مخ ۱۵۶۸

۱۳:خیر محمد، عارف، سید، دېوالونه ویښ دي،پښتو ادبي ملگري لورالائي، 2012ء، مخ ۸۲.

۱۴پښتو پښتو تشریحي قاموس، دوهم ټوك، ۱۳۶۰ هـ ش،مخ 1568 .

۱۵: پښتو تشریخي قاموس: دوهم ټوك، ۱۳۶۰ هـ ش، مخ۱۱۵۸

۱۶درياب: مخ ۵۴۳ .

۱۷:درياب: مخ ۷۳۱ .

۱۸:درياب: مخ ۱۱۸۵

۱۹:دېوالونه ویښ دي، حاشیه، مخ ۱۱۸.

۲۰:درياب: مخ ۱۱۶۸.

۲۱: کاکړ، سیال، فولکوري انځور، پښتو فولکور سوسائټي،کوئټه، ۲۰۱۲،مخ ۳.

۲۲د پوالونه ویښ دي، په حاشیه کښې، مخ ۱۳۵
۲۳:دریاب: مخ ۲۰- ۲۱
۲۴ د پوالونه ویښ دي، حاشیه، مخ ۱۳۶ .
۲۵ دریاب، مخ ۹۱۹.
۲۶ دریاب: مخ ۱۲۹۵ .
۲۷:دریاب، مخ ۱۲۷۶ (په پښتو- پښتو سیند کښې د دې معنا: د ښارویو یوه ناروغي ښودل شوې ده. پښتو- پښتو سیند ، مخ ۱۰۴۱ ).
۲۸ : مشواڼی، زاهد ، پښتو- پښتو سیند ، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، 1385هـ مخ ۳۷۵ .
۲۹ :پښتو پښتو سیند ، زاهد مشواڼی، مخ ۸۸۸ .
۳۰ : خیال بخاري، سید ، پښتو صرف ونحو، یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښور، (طبع سوئم) 1983ء، مخ ۴۴
۳۱ :خیال بخاري، مخ ۴۹
۳۲ :خیال بخاري، مخ ۵۰.
۳۳:ختک، راج ولي شاه، ډاکټر، مرتبه: پښتو نوې املا، پښتو اکېډمی پېښور یونیورسټي، 1991ء، مخ 24- 23.
۳۴ دغه بره، یولسمه فیصله: مخ ۲۴- ۲۵.
۳۵ دغه بره، مخ:۲۳-۲۴
۳۶ : دغه بره، دیارلسمه فیصله، مخ ۲۷